محمد عارف رسولی ۲۰۱۶/۰۴/۲۸

# په افغانستان کې د تاریخ له تکراره ویره!!

## سریزه:

د دې لنډې لیکنې موخه دا ده چې که ممکنه وي یو بحث رامنځته شي او ټولو افغانانو ته او په تیره بیا هغو کسانو ته چې د سولې د نقشې په جوړولو او د سولې په ممکنه خبرو له دواړو خواوو ښکیل دي، ورپه یاد کړو چې د خپل تاریخ تیرو درسونو او تجربو ته وګوري، مطالعه یې کړي، ویې ارزوي، ورڅخه زده کړه وکړي او کار ور څخه واخلي. اړینه بولم چې زموږ دواړه دواړه افغاني خواوې د هیواد له اهل نظر کسانو او وتلو مورخانو سره مشوره وکړي، د ښکیلو بهرنیو کړیو په دلچسپیو ځان سم پوه کړي او پرمخ ولاړ شي. د خپلو ګروپي او ځاني ګټو په ځای، د هیواد اوږدمهاله او ملي ګټې په نظر کې وساتي. انشا الله تعالی دا د وطن، خلکو او هرې دلې په ګټه ده.

## د افغانستان د اړونده حالاتو یو شالید:

که زموږ له بحرانونو ډک تاریخ او اوسني ستونزمن حالت ته ښه ځیر شو، د افغانانو یوه ستره ستونزه دا ده چې موږ خپل تاریخ، تیرې تجربې، ماتې او بریاوې هیڅ نه ارزوو او نه ورڅخه درس اخلو. د افغانانو په هکله ویل کیږي چې په جنګونو کې ښه دي، خو په سیاست کې یې مزه نه شته. لامل یې دا کیدای شي چې دا کار مجربو او ژمنو سیاستوالو، کارپوهانو، شنونکو او تاریخ پوهانو او د هغوي تر منځ نږدې همکاریو ته اړتیا لري چې موږ یې کم لرو. که څه کسان لرو هم، خو هغوي په ملي مسئلو کې یو بل ته سم لاس نه ورکوي او په بیځایه کشمکشونو کې اړم دی. نه د اړوندو شته کارپوهانو کوم انجمن شته، نه د سیمه ایزو ستراتیژیکو مطالعاتو غوره مرکزونه درک لري. موږ اړونده د فکر مرکزونه ی(Think Tanks) ، د بحث کولو او غوږ نیولو او لاس ورکولو کلتور، د لوایحو او مقرراتو شتون او ورباندې د عمل کولو کلتور نه لرو، ځکه هغه په پرمختللو دولتي او ملي نهادونو کې د زماني په تیریدو سره، په کراره کراره رامنځته کیږي او هغه په موږ کې نه شته.
دا څه د حیرانتیا ځای نه دی. افغانستان چې هر څه لرل د شخړو، د ثبات او حکومتولی د شړیدو له کبله، له منځه تللي دي. دا پورته شرایط یوازې او یوازې هغه وخت رامنځته کیږي چې د ملک نظام له اړین ثبات او دوام څخه برخمن وي، ورته اړین بستر او شرایط رامنځته شي او ملک داسې کدرونه او ملي مشران هم ولري چې د دې شرایطو له پاره نه ستړي کیدونکې هڅې، مدیریت او رهبري وکړي.
زموږ ډیر خلک نه پوهیږي چې که په ملک کې د نظام تداوم نه وي، هیڅ ډول ایدیولوژي نه شي بریالی کیدی. که د خپل ملک حالاتو او د څو لسیزو حوادثو ته ښه ځیر شو، په دې بیخي یقین کولای شو. نو اړینه ده چې ټولې خواوې په ملک کې د نظام د دوام او په هغه کې د اصلاحاتو په هکله سره یوه خوله شو. که داسې نه وي نو د سم او د خپلي خوښې نظام جوړول خو لا پریږده، چې د ملک بقا به مو هم تر سوال لاندې راشي.

## د افغانستان په هکله د ژینوا د سولې خبرې او تړون:

په افغانستان کې د روسانو د اشغال په وخت کې داسې شرایط راغلل چې سولې ته د رسیدو له پاره د ملل متحد تر چتر لاندې د سولې په خبرو ټینګار کیده. په هغه وخت کې د غیر مستقیمو او یا شا په شا خبرو اصطلاح رامنځته شوه. زما د پاره چې له لیرې مې ورته کتل، د شا په شا خبرو اصطلاح نوې، خو د خندا وړ وه. په شا په شا خبرو کې د نورو ملکونو لکه د روسانو، امریکایانو، پاکستانیانو او د افغانستان د دولت د نمایندګانو تر منځ د افغانستان د سولې په مکانیزم خبرې کیدې او د خبرو پایلې بیا پاکستان له افغاني تنظیمونو سره شریکولې. دا خبرې په د سویس هیواد د ژینوا په ښار کې د ملل متحد تر چتر لاندې کیدې او د ژینوا د خبرو په نامه یادیدې او د رسانو د وتو او په افغانستان کې د یوه موقت حکومت د رامنځته کیدو په هکله چې کومه موافقه هم رامنځته شوه، د ژینوا د موافقې (Geneva Accords)په نامه یاده شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د دې موافقې ضمانت کوونکي روسان او امریکایان ول لکه چې په اوسنیو مذکراتو کې امریکایان او چینایان دي. ما هغه وخت په یوه مرستندویه موسسه کې کار کاوه پخپلو سترګو مې د هغې موافقې ماتیدل او نقض هره ورځ لیدل خو یوې ضمانت کوونکې خوا هم غوږ نه ګراوه او یوازې کله کله به یې کومه اعتراضیه اعلامیه خپروله. ځکه په هغه وخت کې د دواړو ضمانت کوونکو په مخ کې نورې نړیوالې او د خپلو ملي ګټو مسئلې پرتې وې چې زموږ تر قضیې ډېرې ورته مهمې وې او هم دې تضمین کوونکو زموږ له قضیې سره هغه لمړنۍ مینه نلرله. اوس کله چې زموږ ځینې شنونکې د اوسنیو تضمین کوونکو د شتون په هکله خوشالي ښکاره کوي ماته هغه تیر وخت رایاد شي.

د دې تړون ډېره بده خبره دا وه چې د مذاکراتو، د سولې د شرایطو، د حکومت د جوړیدو او زموږ ټولو نورو ملي مسئلو واک پردو ترلاسه کړی و، موږ په حقیقت کې نه وربانډې کنترول درلود او نه وربانډې سم پوهیدو. زموږ دواړه خواوې په لنډ مهاله، کم ارزښته تاکتیکي شیانو خوښ ول او ستراتیژیکي او اوږدمهاله د ملي ګټې یې له لاسه ورکولې.

په هغه وخت کې لمړۍ خو دواړه خواوو داسې انګیرله چې هسې هغوی بریالي کیږي، نو د خبرو اړتیا یې نه لیده، د کابل رژیم په روسانو او مجاهدینو په نورو نړیوالو مرستو تکیه کوله. هریوه ځان په حقه باله او بله خوایې د نورو ګوډاګیان بلل. وروسته بیا شرایط بدل شول. د کابل دولت د سقوط په درشل کې شو او د خبرو وړاندیزونه یې کول. د ملل متحد په مرسته د یوه موقت دولت طرحه چې کیدای شوی افغانستان یې له بحرانه ژغورلی وای رد شوه ځکه ځینو فکر کاوه چې ټول قدرت او یا یې ښه غوښنه برخه خپلولای شي.

تاریخ ښودلې کله چې جګړه هرڅومره هم د کوم پاک مرام لکه د هیواد استقلال لپاره وي خو چې اوږدیږي په فتنه بدلیږي، مافیایي کړۍ پکې رامخته کیږي، د ملک اقتصاد جنګي بڼه مومي او شخړه قومي بڼه غوره کوي. کله چې د قدرت تمه زیاته شي بې تجربې او یا غرض لرونکي خلک غواړي په واک خیټه واچوي او تیر پاک ارمانونه هیر کړي. که دسولې خبرې هم کیږي د بهرنیایو په واسطه کنترولیږی. په اتیایمه او نوی یمه لسیزو کې همدا کار په افغانستان کې وشو. جګړه اوږده شوه، قومي شوه، سمتي شوه، د سولې او د شخړې د ختمولو چانس د نورو په مفاداتو پورې وتړل شو او د افغانانو یوازې وینې توییدې او سیمه ایز اهداف د نورو پاللل کیدل.

د دې پروسې پایله دا شوه چې د مجاهدینو ځینو ډلو د ملل متحد تر اشراف لاندې موافقه رد کړه، موقته جوړیدونکې اداره یې ونه منله. د دې په پایله کې موږ ولیدل چې یو غلط او ورانونکی فورمول د پېښاور په ګورنر هاوس کې تصویب او پلی شو او د لانورو شخړو زمینه یې برابره کړه. که څه هم پاکستان د ژینوا د تړون په اساس ژمن و چې د ملل متحد تر اشراف لاندې به په کابل کې موقته اداره مني خو خپله ګټه یې پکې ونه لیده او د ګورنر هاوس په پریکړه یې مات او فسخه کړ. ویلای شو چې زموږ د ملک د نوي دور ستونزې له دې بدنامې موافقې راپیل شوې خو په خواشینۍ سره تر اوسه مورخینو او لیکوالانو کمه پاملرنه ورته کړې ده. که د بهرنیو ښکیلو خواوو دهغه وخت اخري پریکړو ته وګورو راښیي چې چا د چا سره په رښتیا مرسته کوله او ولې.

## د سولې اوسنۍ خبرې:

زه چې د افغانستان د سولې اوسنیو خبرو ته ګورم د څه توپیرونو سره هغه د ژینوا د سولې خبرو ته ورته راته ښکاري او ویره لرم چې خدای مه کړه له بارانه به مو پورته کړي او ناوې ته به مو کینوي. ویریږم چې د اوسنیو خبرو په پروسه کې هغه د ژینوا د خبرو تاریخ بیا تکرار نه شي. که څه هم هغو د روسانو وتو ته لاره هواره کړه، خو سوله یې رانه وسته او شخړه لا نوره هم پیچلې شوه. په هغه وخت کې بیځایه شرطونه ایښودل کیدل، هر چا ځان بریالی باله، سل په سلو کې یې د خپلې ډلې او یا د خپل نظر سره سم حکومت غوښته. هغوي نه پوهیدل چې که دا ټول قدرت دوی ته هم ورکړل شي، نو په تش لاس، شړیدلو نهادونو، خالي خزانې او په ډېره لږه بشري وړتیا په هغه وران افغانستان چې د نورو هیوادونو نفوذ پکې خورا زیات شوی و د یوې ډلې د خوښې نظام ممکن نه دی او یوازې هغوي دا ملک نه شي اداره کیدای. وروستیو حوادثو دا ښه ثابته کړه.

که څه هم موږ د سولې خبرو ته باید ښه راغلاست و وایو، په ښه شګون یې ونیسو او داسې یو خوځښت رامنځته کړو چې د سولې په ردوونکو فشار واچول شی، که دا په هره خوا کې وي، خو دا هم اړینه بولم چې دواړه افغاني خواوې له تیرو ترخو خاطرو او تیر تاریخه هم باید زده کړه وکړي. ویره شته چې غلیم ډېر مکار دی، موږ ډېر ساده او تل په وړو تاکتیکي، ګروهي او ځاني خبرو کې راګیر یو او که سم فکر و نه کړو، خدای مکړه ستر تاوان به وکړو.

کله به چې د نورو ملکونو نمایندګانو د افغانستان په قضیه او په سوله خبرې کولې، پریکړې به یې بیا له دواړو افغاني لوریو سره شریکولې. د کابل دولت د ملل متحد له لارې د پاکستان سره غیر مستقیمې خبرې کولې ځکه هغه وخت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پاکستان د افغانستان دولت په رسميت نه پيژانده. افغانانو داسي ورزيده او کارکشته سياستوال يا نه درلودل او يا چا غوږ نه ورته نيوه چي په دې له سره ورانه پروسه او انجام يي پوه کړي. د مجاهدينو ډلو خيال کاوه چي نن دی که سبا وزارتونه او رياستونه به وررسيږي او ارمانونه به يي پوره شي خو تر لنډ وخت وروسته خپل منځي شخړې پيل شوې، د ډلو تر منځ ايتلافونه وشول، بيا ړنګ شول، پاته ملک او شته نهادونه وشړيدل. ملي اردو هسي په نامه پاته و، ډېر سياسي شوی وو، زياتو کودتاګانو په قومي او سمتي لارو ويشلی و، او په پای کې يي مسئله لا نوره پيچلې کړه.

د دې لاملونه به ډېر وي خو که سرى وګوري ځيني ځرګند هغه يي دادي چي اوږدو جنګونو، حزبي او ګوندي سياستونو، افراط او تفريطو د بهرنيانو دسيسو او تذويرونو په کابل او د مجاهدينو په تنظيمونو او ډلو کې دا مجال له منځه وړی و چي د ملک بيطرفه، تجربه لرونکي نخبه سياستوال، په نړيوالو اړيکو کي مجرب کارپوهان، د سياسي مذاکراتو مديريت کوونکي او په ملت کې د همغږۍ

رامنځته کوونکي له ځان سره وساتي. دواړه خواوې، او په دواړو خواوو کې ډلي او ټپلي چي له افراط، تفريط، ځان غوښتني، ميم زرما ټول د ما په فکر کې ول او داسي خام فکر يي کاوه چي تر جنګ وروسته به هغوي د ملک اداره ټوله ترلاسه کوي او بل چاته اړتيا نه لري.

سرى اټکل کولای شي چي هغوي ته په ملت کي دربدري، بيوزلي، د بهرنيانو ژور نفوذ او د خپلو خلکو مجبوريتونه، بيوزلي، نالوستي توب، د کدرونو کمښت او د نوور ملي او سيمه ايزو ستونزو پيچلي ابعاد ښه ځرګند نه وو. هغوی د خپلو بهرنيو حليفانو په وعدو او فريبونو نه پوهيدل، پوهه، له تاريخه او تجربو يي نه وه زده کړې چي بهرنيان يوازې د خپل ځان له پاره کار کوي او چي شرايط بدل شي هغوي به په ځای پريږدي.

په پای کي شرايط داسي شول چي د ژينوا د خبرو کنټرول د نورو په لاس کي ولويد. هغه چا چي يوازې غوښتل يي چي په افغانستان کي سناريو بدله کړي، د رښتيني سولې په ځای يوازې د شخړې رنګ بدل او لا نوره يي اوږده کړي، دا وار تنظيمونه په خپل منځ کي سره وجنګوي اوبه خړې کړي او کبا ونيسي بريالي شول. بهرنيانو چي خورا خطرناک ستراتيژيست کارپوهان يي لرل، لمړى موخه يي داوه چي يا په کابل کي يو ګوډاګی حکومت رامنځته کړي او که دا موخه شوني نه وه افغانانستان تر ډېره وران او ويجاړ او ځان ته محتاج وساتي. هغوي وتوانيدل چي افغاني ډلي بنې له يو بله ليرې کړي، د قدرت په سر يي د خپلو پيچلو فرمولونو په مټ سره وويشي او د يوه قوي مرکزي حکومت د جوړيدو مخه پکي ونيسي.

زه باور لرم چي ټول افغانان به په يو څه ورو توپيرونو له دې پورته ټکو سره توافق ولري. توپيرونه به داوي چي يو څوک به د خپلي سابقي له پلوه، د خپلو مالوماتو له نظره يوه او بله خوا ملامت کړي خو دا نشي ويلای چي دا پورته تيروتني او پيښي رامنځته نشوې، يا خو دي او يا هغې خوا د ستونزو ښه رهبرى او مديريت وکړ. که څوک دا وايي نو له خپل ملت او خپل تاريخ سره او د حقايقو له ويلو سره ستره جفا کوي.

## د پورته تاريخ د تکرار ويره:

اوس اوس تر اوسنيو څوارلسو کلونو شخړو او جګړو وروسته بيا د دې اړتيا وليدل شوه، اراده پيدا شوه، هلته او دلته خبرې پيل شوې چي د سولې په هکله فکر وشي او سولې ته هم چانس ورکړل شي. خو حالاتو ته په کتو سره ويره داده چي خداى مکړه دا ځلي هم زموږ د شخړې د دواړو خواوو سياسي لوبغاړي دوکه نشي، د ټول قدرت او يا د زياتو امتيازونو د اخيستلو په تمه له بل افغاني لوري سره په بيځايه ناندريو اخته نشي، او که دا کار وشو نو ابتکار به بيا د پردو لاسته ورشي. له پردو بيا ويره شته چي کومه بله دوکه به يي برابره کړې وي، ترڅو نوي شرايط رامنځته کړي، جګړه په يوه بله طريقه وغزوي، لانور زموږ خلک له پښو وغورځوي، او پرينږدي چي زموږ ملت په پښو ودريږي، خلک مو سره پخلا شي او له ورانيو او دربدريو ځان خلاص کړي.

زه حيران يم چي چيرې دي زموږ ملي شخصيتونه، قومي مشران، ملي سياستوال چي د سولې په پلوی، يوه سوچه افغاني طرحه او پروسه چي مشري او نوښت يي دواړه د افغانانو په لاس کي وي رامنځته کړي. په دې شرط چي د شخړو دواړه خواوې پکي خپل ځان وګوري او هيڅ يوه خوا هم د محروميت احساس ونکړي.

يقين لرم چي زموږ د ملک د کشالي سيمه ايز او نړيوال لوبغاړي به هڅې کوي او نه به پريږدي چي داسي کومه افغاني طرحه بريالى شي، خو که ځيني ملي شخصيتونه راوړاندې شي، داسي يو بهير پيل کړي زموږ د ډېرو پرګنو مرسته او ملاتړ به تر لاسه کړي او دا به زموږ مسئله خورا اسانه کړي او ابتکار به له نورو واخلي. دا به د ملت په داخل کي يو بهير او د هيواد په غليمانو يو فشار شي چي زموږ خلک د خپل سرنوشت ټاکلو ته پريږدي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

## له دوارو غاړو او عامه افغانانو ځيني غوښتني:

دلته زما موخه د دي خبرې پوهاوی دی چي عام افغانان دې په صحنه کي وي، په دوارو خواوو دې اړين سياسي او اخلاقي فشار واچوي، د خبرو دواړه افغاني خواوې دې هم د هيواد ملي مصالح په نظر کي ونيسي او له افغاني بيطرفه او مستقلو شخصيتونو، کارپوهانو او مورخينو دې مشوره وغواړي. دا ځکه چي دا خورا پيچلي مسئله ده. کيدای شي په دوارو افغاني خواوو کي ځيني خلک په تاکتيکي او وړو خبرو پسي وګرځي، خو د ملک ستراتيژيکي ګټي به له خطر سره مخ کړي او سوله به هم را نه شي، شخړه به اوږده او نور خطرناک ابعاد به ومومي.
که غواړئ سوله راشي، ستاسو ملک آباد شي، تاسو ټولو ته د خپلو ارمانونو د تحقق له پاره لاره آواره شي، نو د سولي نوبت په خپل لاس کي واخلئ، له مقابل لوري سره بيله شرطه تماسونه ونيسئ، د سولي شرايط را منځته کړئ او سوله وکړئ. له بيطرفه ملي، روحاني او سياسي شخصيتونو هيله کيږي چي د سولي له پاره يوه افغاني ملي طرحه جوړه کړئ، له عامه خلکو سره يې شريکه او کار ورته وکړئ. په خپلو ګټو پسي ونه ګرځئ، ځان ته په تاريخ کي ځای ومومئ او د الله رضا تر لاسه کړئ، تر څو مظلوم انسانان وژغورل شي او وطن نجات ومومي. په پای کي مه پريږدئ چي د ژينوا د سولي پايلي بيا تکرار شي او زموږ ملک په يوه بل ناورين اخته شي. که داسي ونه کړئ، خو الله تعالی او ملت ته به ځواب ويونکي ياست.

د يوې سراسري او دايمي سولي په هيله


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ